لیکونکی : اندری ولتچیک (Andre Vltchek).
منبع اود خپریدو نیټه : انفارمیشن کلیرنګ هوز (26-01-2018).
ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».

----------------------------------------------------------------

# دانترکانتینا نتل دهوټل په کلا بندی سره
# آیا کابل دسقوط په حال کی دي؟

## Hotel Intercontinental Siege – Is Kabul Falling

**افغانستان اوس دمړینی دخطر سره مخامخ دی چي باید ژوندي پاتی شی**
**مګر دا لا روښانه نه دی چي څرنګه به مدیریت شی ؟**



د 

دکابل دانترکانتینتال دهوټل (۲۴) کلابندی ختمه شو اوتول یرغل کونکی ووژل شو

په تیره اونی کی دکابل انتر کانتیننتا ل هوټل دتوپکیانو لخوا د یو د ستکش او یا لکه د لوی آدی دخوب د تخت په څیر تر یرغل او برید لاندي پریوتل .ا ما سر بیره پر هغه باندي یا ددی یرغل څخه د با ندي هم په ا فغا نستا ن کی جګړه ډیر په شد ت اوپه ډیر خشونت سره مخکی ځی کوم چي ددی جګړی په دوام سره بی د کوم هد فه د ملیونو افغانانو دژوند چاری سره وران اویوله بل څخه بیل شو او په سلونو نور افغا نا ن خپل ژوند دلاسه ورکړل کوم چی دغه ټول نا ورینی د**« نا تو»** د (۱۶) کا لوداشغال او د (یو تریلیون دالر) دلګښت د پا یلی سوغات دی کوم چی دسولی دراوستلو پرځای افغا نستا ن یي به یوه مخروبه اوپه کاندوالی سره واړول اویا دخا وری سره یی خا وری کړل .

ننی ټول هغه تا سیسا ت ، کارخانی اونور شتمنی کوم چی لاتراوسه په هیواد کي دهغه پواسطه سره ورځنی فعالیتونه ترسره کیږي هغه جوړښتونه اوزیر بنایی تاسیسا ت دي کوم چي دشوروی اتحاد ددوری پرمهال جوړ شوی دي لکه داوبو لګولو بند ونه ژورځاګا ني ، داوبو کانا لونه ، د ډوډی پخښولو (سیلوګانی) فا بریکي اوبیا په دي وروستیو وختونوکی **دهند** اود **چین** دهیوادونو په ما لی اوا قتصادی مرستي سره نوی جوړ کړل شوی تاسیسا ت دی چی دا فغا نا نو په چوپړ کی ولوید لی اما د **«ناتو»** اودهغه سره نژدی متحد اشغالګونکی هیوادونه په افغا نستا ن کی هیڅ کوم یو عا مه المنفعه تاسیسات ا و زیربنایی جو ړښتونه نه دی آباد کړی بغیر دیو زیا ت شمیر له ځا نه راتاوکړی لوی کانکریټی دیوالونه اوهم د خپل نظا می بارکونو او د نظا می داډو پر دیوالونو باندی داغزن سیم درا تا وولو څخه..........؟

د کا بل دانترکا نتیننتا ل دهوټل دکلا بندی اود جګړی څخه مخکی کوم چي په هغه کی د(شلو) څخه زیا ت کسا ن خپل ژوند د لاسه ورکړل دا فغا نستا ن اولسمشراشرف «غنی» په هغه (۶۰) دقیقه ای مرکه او مصاحبه کی چی د **لورا لوګان** (Lara Logan) دخبریال سره ترسره کړ په ډاګه سره یی اعتراف وکړ چي هغه نشی کولای چي دخپل هیواد د پلازمیه (کا بل) څخه دفاع او سا تنه وکړی مګر دا خو یواځي د هیواد پلازمیه کا بل نه دی چی نا امن دی بلکه دغه نا امنی په ټول هیواد کی د ګډوډی اود مارپیچی په بڼی سره ترسترګو کیږی . اودا یو ځرګند حقیقت دي چي دا به ډ یر ژر ناشونی وي چِي په هیواد کي حالات تر پوره کنترول لاندی راشي اویا لږ تر لږه دکا بل څخه سا تنه اودفاع وشي .

داکیدای شی چی تاسی دکابل ، جلال آباد اودهرات په لویو لاروکی ډیر ځله اوریدلی وی چی ددغه هیواد په دي دوامدار شحړه کی به کله کمی راشي ؟ اما دځنو دلایلو څخه داسی پا یلی تر لاسه کیږی چی شا ید په دغه هیواد کی د شخړی اود ګډوډ یو طرح داشغا لګرو هیوادونو له اهدافو څخه وي .

ز ه غواړم چی دکابل دانتر کانتیننتا ل دهوټل په اړه یوه توکه وکوم او هغه داچي دغه

هوټل لکه دشوروی اتحاد دسایبریا په ښار کی هغه مخکینی دری ستاره يي هوټلونو ته ورتوالي لری کوم چي د هغه هوټلونو څخه چپ چارپیر غبرګ رنګ کړل شوی اوسپنیز میلی را تاو شوی وه د هوټل په مینځ کی رنګه تک سور اوپاک قرمزی غالی غوړیدلی اودهغه کارکونکی ډیر بی جوړه او په دوستانه بڼی سره په چوپړ کی وه اما دهوتل په کافی شا ف کي دهغه پیشخد متان دتاسی حرکاتو ته کتل او کله چي تاسی هغو ته په شخصی بڼی سره مسکا کول اويا د ګوتې په اشا ری سره موهغوی ته د کوم شی سپا رښتنه کوله نوهغوی په ډیر ورین تندي د هغه رنګا رنګ شوکلاتونو او د خوړو له جملی څخه تا سی ته یوه ځا نګړی او په زړه پوری شوکلات راوړل او یا د ستا سو په چوپړ کی وه .

دهر څه سره سره دانترکا نتیننتا ل هوټل هلته په کابل کي د تل د پاره ولاړ او ځای پرځای وه ، اما دخرابیدو په حال ترسترګو کيد ل ، خو لا تراوسه د خپل تاریخی ښکلا او پر زرق وبرق اود پخواني جذابیت څخه برخوردراه دی ، د هغه لابی دافغا نستا ن ددویز اود طبعی منا ظرو په عکسونو اوپه انځورونو سره ښکلی اوسمبا ل شوی ښکاری دهوټل دخوني اود با لکونو ظا هری منظری يا د لیری څخه د هغو نما حیرانونکی تر سترګو کیږي دهغه لاندی دباغ بالا پخوانی مانې دخپل پراخ عامه پارک سره کوم چی له هغه ځایه څخه دکا بل د ښا ر تیول نما ښکاریږی اوپخپله د باغ بالا ما نی دهغه لوړو غرونو په لمن کي موقیعت لری کوم چی دهغو غرونو څوکي تر آسما نه لوړ شوی تر نظر راځي .

د سها رپه لمړیو ساعتونو کی د انترکانتیننتا ل دهوټل د رستورانت کړکیوته نژدی څو میزونه تقریباً هر وخت د **کام آیر** (kam Air) روسی پیلوټانو اودالوتکی دنورو خدمتی عمله او یا دالوتکی د چوپړیانو له خوا رانیول کيدل ، اوزه نه پوهيد م چي دوی روسان دی اویا اوکراینیا ن ځکه چي هغوی پخپل مینځونو اوله ما سره په روسی ژبی خبری کولي هغوی اوږد اونی اود قوی عضلاتو څیښتن وه اوداسی انګیرل کیده چي هغوی د جنګ په ساحه کي د پیلوټانو په حیث د ندی تر سره کوی .

مونږ تل یو اوبل ته د سلامونو په ورکولو اود یو یا دوه توقی اود شوند و د مسکا په اداکولوسره بی له دی چي پخپلو مینځو کی ډیر ژور بحث اويا سره مرکی وکړو اړیکی سره مونیول.

یو څه موده مکخی دسهار له خوا د الوتکی دعملی سره په ګډه می دافغانستان دهرات لرغونی ښار ته پرواز وکړ ، ځما پرموتروان با ندي نا وخته شوی وه چی ځا ن هوای میدان ته ورسوی نو زه دکام ایر د شرکت دالوتکی د عملی یوه کوچنی مینی بس ته چی د الوتکی د کارکونکو نقل اوانتقال له هوای میدان څخه پر غاړه درلود نژدی کړ .

اودهغو څخه می وغوښتل چي لطفاً که امکان ولری ما هم له میدان څخه دځا ن سره ویسی – نوی هغوی په ډ یر ورین تندی سره وویل هوکی البته ولی نه – نوما هم په یو

ټوپ اوپرش سره ځان د میني بس په د ننه کی ځای پر ځای کړ چی هغوی ټول د شوخي په بڼې سره په خندا شول .

مونږ ټول بهرنیان کوم چی په انټر کانټیننټال هوټل کی اوسید لو ټول لکه دیو کورنـي غړي سره اوو،نه زمونږ په مینځ کی څوک معتبر وه اونه هم غریب اونه هم ددولت ځنی غړی اویا دغیردولتی سازمانونو کارکونکی له سره بډا او ثروتمندان نه وه دغه هوټل دکارګرو خلکو د پاره یوه سرپناه وه چي په هغه کی ژورنالستا ن ، اخبارچلونکي ، فلم جوړونکي ،پیلوټان ، سره ژوند کاوه کوم چي سا تنی او مصونیت ته ضرورت درلودل نسبت وهغه کسا نو ته چی دخپل مصونیت دپاره دخپل سفارتونو له شاوخوا څخه لوړ کانکریټي دیوالونه را تاو کړی اویا د ښا رپه مینځ کی یواځـني د(سرینا ) هو ټل دی کوم چي د هغه د شاو خوا کی هم لوی کا نکریټي دیوالونه درول شوی دي .

دالوتکی دوه قدیمی اودباور وړ (MD-28) قوی انجنیونه په الوتکه کی د څرخیدلو په حال کی وه – نو ماهم دځان سره فیصله وکړ چی دواړه سترګی سره پټی کړم ترڅو چي یوڅه په خوب کی لاړشم نویوڅو شیبی وروسته می پخبل اوږه کی یوه د نوازش ورکولو د نرم لاس وهلو احسا س وکړ اوکله چی می خپل سترګی خلا ص کړ د هغه آواز مي واوریدل چي را ته په روسی ژبی ( Kofeiku ne khotite? Rebyata tut tol’ko cto svezii svarili”) سره وویل تاسی یوڅه قهوه غواړي چي وڅښی ،اوزمونږ دالوتکی د پخلنځی کارکونکی دغه قهوه ډیر تازه سره دم کړی دی.

ما دغه معطره اوپه زړه پوری قهوه څښل اودالوتکی دکړکی څخه می دافغانستان لوړ اوله برمه ډک غرونه چي دواوری پواسطه سره پوښل شوی وه کتل اوپوره ډاده اوم چی د الوتکي په کابین کی روسی پیلوټان پرخپل ځا ن په کا مل باور سره دالوتکی فرمان په لاس کی لری او مونږ دهرات د لرغونی ښار خوا ته پرواز ورکوي .

« ما دخپل ځان سره فکر وکړ اوهغه داچي که چیری په نړی کي داسی دالوتکی یوه خدمه (عمله) وی کوم چي په دی ډیر بوړنونکی او له خطره ډکو شرایطو کی له یو ځای څخه بل ځای ته پرواز کوی نو هغه (عمله ) به دالوتکي همدغه (عمله) وي ».

داهغه شیبی وه چی ما سره دا احسا س پیدا شوچي زه ژوندی او خوشحا ل یم او ځما دخوښی او خوشحالتیا عامل دادی چي زه په افغا نستا ن کی کارکوم او دغربی هیوادونو دجنایت کارانو جنایتونه د مید یا دلاری د نړی خلکو ته افشا کوم اوپه دی باند افتخار کوم چي زه د یو له غروره ډک اود رینتینی افغان پرګنو سره په مینه کارکوم او اوس دخپل هیلو دتر سره کولو اویا دخپل دندی دسرته رسولو دپاره په دغه الوتکه کی دمرکزی آسیا یوه تاریخی اولرغونی ښا ر یعنی هرات ته په پرواز کي یم .

د جنوری د میا شتي په «شلم» کال (۲۰۱۸) په افغا نستا ن کی د **سنت لوک توکیو** (Tokyo’s St Luko’s) دروغتون دجدی مراقبتونو په سرویس کی د خپل پښی دهغه

پخواني تپ له امله چي بيا له سره تازه شوي وه او پوره روغ شوي نه وه دخپل ژوندي پا تي کيدو د پا ره بستر شم نو په يو ناڅا په بنې سره ځما سترګې د هغه تلويزيون پر پردي باندي ولويد ل چي په هغه کې مې د لوګيو او دغبا ر لوي او لوړمنظري په کا بل کي زمونږ داتنرکا نتيننتا ل هوټل دکړکيو څخه داسما ن په لوري ښکاره شو او هلته په روغتون کي د خلکو له ګونګسي څخه پوه شم چي پر انترکانتيننتال هوټل باندي د طالبانو د متحد ځانګي يعني د حقا ني شبکي تروريستا ن يرغل راوستي دی کوم چي وروسته همدغه خبر دجا ويد فيصل داجرايوي ريس د ويا ند له خوا تويت شوي هم وه .

نو دهمدي حملي په ترڅ کې چي دطالبانو دحقاني شبکي پواسطه سره تر سره شو کم تر کمه د(۱۴) ساعتو په نښتو کی دکام اير کارکونکی (عمله) تقريباً (۱۴) بی ګناه کسان خپل ژوند دلاسه ورکړل چي د هغو په جمله کي دوه ونزويلايي پيلوټان هم وه کوم چي پخپل وينو کی لړل شوي مړ شوي وه يعنی هغه دوه ونزويلای پيلوتان چي نه ددولت له پلويانو څخه وه اونه هم د «ناتو» سره د مرستی کوم تعهد درلودل بلکه هغوی ډير ساده رومانتيک ، تند رسته ، زړه ور او مهربان خلک وه اودا فغا نستا ن سره لکه ځما په شان ډ ير مينه لرل چي دلته کاروکړی اودا ځکه ما ته څرګند دی کوم چي هغوی ما ته دافغانستان سره دخپل ميني په اړه سره مخکی ويلی وه .

دکابل دانترکانتيننتال دهوټل په مورد کي هرڅوک تعجب کول چي په کابل کي ځما هوټل دامريکي دلوکسو هوټلونو دزنجيری سره کوم يو ښکار اړيکي اوارتباط نه لری اونه هم په همدی نوم سره يادیږي بلکه دغه هوټل داصلي انترکا نتيننتال دهوټلونو يوه ځانګه دی چي دهغی دروازه له کا ل (۱۹۶۹) څخه بيا تر (۱۹۸۰) پوری دخلکو په مخه پرانستی وه (يعنی يو څه موده مخکی پرا فغا نستا ن باندی دشوروی ديرغل څخه ) او اوس دغه هوټل يو دولتی هوټل دی او دلته د ليری خا رجي ملکونو څخه خلک د بود با ش د پاره دی هوټل ته راځي او کولای شي چي يوه خونه ديوی ورځی دپا ره په (۶۰ ) دالرو کرايه کړی او که چيری د هوټل د مينجر سره چڼي ووهل شي امکان لری چي يوه کوټه د يوی ورځی د پا ره په (۵۰) ډالر کرايه کړ شي .

دغه هوټل په څو مخکي وختونو کی ديو لړ غملړلي واقعاتو سره په مخامخ کيدو او په تيره بيا د (۱۹۹۰) کال د کورني جګړی په وخت کی ډير زيانمن شو لکه هغسی چي ويل کيږی ددی هوټل (۲۰۰) خونی له جملی څخه په يوه شيبه کي (۸۰) خونی يی په کرايه نيول کيدل ، اما کله چی دغه هوټل په ډير نژدی تازه وختونو کی يعنی په کا ل (۲۰۱۱) کی دطا لبا نو تر يرغل لاندی راغی ددی هوټل (۲۱) ميلمانه خپل ژوند دلاسه ورکړل.

سره ددی چی دکابل انترکا نتيننتا ل هوټل يولوی تاريخ لری خولا تراوسه دډيرو محلی خلکو اوپه کا بل کي دځينو بهرنيا نو دپا ره دعلاقی وړ يو هوټل دي .

ديادونی وړ مطلب داچي دنومبر مياشتی کوم چی درمضان دمياشتی سره سرخوری

دلته په دی هوټل کی د کا بل ښتمن او نخبګان خپل روژه ماته په همدی هوټل کی سره کول .
داهغه هوټل دی چي دلته ډیر لوی کنفرانسونه اومیټینګونه ترسره کیږی ، ددی هوټل بله پیاوړتیا په دی کی دی چي هغه د لامبووهلو د حوض څخه د کا بل دټول ښار منظری اونما راښکاری اودلته هره شپه افغانی کانسرټونه د مشهورو سندرغاړو پواسطه سره تر سره کیږی کوم چی دهغه محلی او تکړه سندر غاړی د موسیقی دماهرو استادانو پواسطه سره روزل شوی دي. اودلته دمیلمنو دخوښی دپاره هر شپه موسیقی کوی.
ددی هوټل په هره څنډه کی پوره امنیت او مصونیت شته اوزه پخپله کله چی له ښا ر څخه دی هوټل ته راځم نو دهوټل دداخلیدو په لاره کي خما موټر په دری چک پاینټونو (یا په امنیت تالاشیو کی) دمسولو امنیتی سرتیرو پواسطه درول کیږی اووروسته دیوله تالاشی او څارنو څخه هوټل ته دداخلید و اجازه ورکوی - خوبیاهم سره له دی اوس افغانستان د خارجییا نود هستوګنی اود ژوند د پا ره یوله ډ یرخطرناک اوغیرمصون هیواد ونو څخه دي .
یواځی یوه هفته مخکی دری مرګونی حملی افغانستان ته لوی ټکان ورکړ چي یوه یی په کابل ، بل یی دهرات دولایت څخه دباندی اودریم په جلال آبا د کی د یو غیردولتی سازما ن د (save the children) په انګړ با ندی د(ISIS) حمله چي دمرګ اوژوبلی سره یوځای وه .
ما پخپله تیر کال ددی هیواد زیاتو ټیی شوی برخو ته سفر وکړ اودخلکو سره می له نژدی خبری اتری تر سره کړ ددی خلکو له جملی څخه هغه خلکو چي په اطرافو کلو او بانډ و اویا دولایت نژدی برخو کی ژوند کاوه نو هغوی دطالبانو تر کنترول لاندی کلو کی د بند ی اویا داسیرو خلکو په توګه خپل دایمی ژوند تیرول اما د هیواد په ختیځ برخو کی له هغه وخته چی دداعش تروریستان ځای پر ځای شوی دی خلکو د قتل عام دوژنو قصی کول یعنی چی داعشیان خلک په جمعی بڼی سره د مینځه وړی .
اوس په کابل کي داشغا لګرو هیوادونود سرتیرو ترسترګو اوترپوزی لاندی دخشخا ش کرکیلنه دښا رپه شا وخوا کی ترسترګو کیږی یعنی په واقغی کلمی سره دامریکی دمتحده ایالاتو دهوایی قوتونو دبګرام د اډی په شا وخوا کی کوکنا ر کرل کیږی یعنی دکوکنار په کروندو سره دبګرام اډه احا طه کیږی .
شورویا نو اوروسا نو اوس په ډ یر مینه او په خا طره انګیز بڼی سره تیروختونه را یا دوی هغه څه چی ما پخپل تیرو لیکونو اومقا لو کی له هغه څخه یادونه کړی .
ډیر نژدی اوډ یرزر هیڅ یوخا رجی په افغا نستا ن کی به پا تی نشي ، اودا شا ید چی د پرله پسی حملو اودیرغ وړلو ل اویا ددی وروستی حملو یواځنی هد ف همد ا وی چی بهرنیان با ید له افغانستان څخه ووځي ؟ نو دهمدی اصل په نظرکی نیولو سره نه کوم ښکاره ، نه بل کوم الترناتیف او نه بل هیڅ کوم یو دحل لار ترسترګو کیږي .

اوس دلته یو سوال را پیداکیږی  چې څوک به ددی وضع او کړکیچ څخه کټه تر لاسه کوي ؟  مطمیناً چی  البته نه دافغانستان  رنځځپلی خلک  ، مګر شاید چي یواځی جنګ سالاران ، افراطی ملایان او اشغال کونکی   اشغالګران  به ګټه تر لاسه کړي .
دکا م ایر (Kam Air) عمله ا و کارکونکي  مسا فران د الوتکی پواسطه سره دهیوادهر ګوټ ته پروازورکول کوم چی ستر خد متونه ترسره کول اودبلی خوا څخه  اوس دوران کړ  شوی انتر کا نتیننتا ل ځنی  نورما ل  برخي د یو سمبول  په شان را پا تی ښکاري .
اودبلی خوا څخه یو کمزوری  ژمنی  چي لا تر اوسه  هم ورته  انتظار وړل کیږی  هغه دادي  چي په راتلونکي کی به  په دی هیواد کی  څه را پیښه شي ؟
وروسته له دی څخه  به ډیر ستونزمن وی  چي خارجي ا تباع د لته په افغا نستا ن کی اووسی بغیر زمونږ  د جنګی خبریالانو  او مزدور خارجی سرتیرو څخه.
افغانستان اوس د مړنی اودمرګنی خطر سره مخا مخ دي ،  دا  هیواد باید چي ژوندي پاتي شي ، خو مګر روښانه نه دي  چي دغه هیواد به څو ک اداره اومدیریت کړي ؟  بیا په ځانګړی بڼی سره هغوی کوم چي له د با ندی څخه د لته را ستنیږي  یا بیرته راګرځی نو هغوی  که دافغانستان سره مینه لری با ید چی د هیڅ یو ستونزی  سره به مخاخ کیږ و نا هیلي نشي او  هیڅ پروا دی ونه سا تي چي څه ورته پیښیږي ؟  دخبرونو د بند یز څخه با ید مخنیوی وشي  اوهغه داچي په الترناتیف  بڼی  سره« دغربی اخبارو»  پر ځای دی لاسته راغلی معلومات چی په هربیه  اوپه هره معنی وی جا ری وساتل شي .
**ددی مقالی دلیکونکی لنډه پیژندګلوي** :نوموړی  فیلیسوف  ، رومان لیکونکي فلم جوړونکی  اویو ریښتینی ژورنا لیست دي  هغه د لسګونو هیوادونو  په جنګ سره اخته شخړیز پیښی او واقعات د خپل لیکلو مقا لی او دراپوروونو  په برابرولو  سره نړیوالو ته اخبار کړی دی  د هغه دری  مشهور کتا بونه  هریو  لکه  (د ا کتوبر ستر سوسیالیستی انقلاب ته درنا وی )  ، د ارورا (Aurora)  انقلابی  رومان  او  د  (امپراتوری  ددروغو انعکا س)  اودهغه نورلیکینی لکه  دروندا ګمبیت (Rwanda Gambit) په اړه ، دروند دی ار کانګو (DR.Congo) په اړه مستند فلم اودهغه مرکه د نوام چامسکی سره د غربی تروریزم په اړه ، نوموړی اوس په ختیځ آسیا ومینځنی ختیځ کی  په سیار بڼي سره ژوند کوی اوهغه دټول نړي پیښی او واقعات  دخپل لیکونو پواسطه سره  خپروي   دهغه سره کولای شی چی دهغه ویب پا ني اود تویت له لاری ارتباط  تینګ کړي .
---------------------------------------- **په درنا وی «2018-02-04»**